مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو شپږمه برخه)

## نور محمد تره کي

د نظر محمد تره کي زوی د غزني ولایت د ناوې د ولسوالۍ په سرهٔ کلي کې د ۱۹۱۷ز کال د جولای د میاشتې په ۱۵ (د ۱۲۹۶ل کال د چنګاښ په ۲۳ نېټې) زېږېدلی دئ. د نور محمد کورنۍ یوه کوچیانۍ کورنۍ وه. پلار ئې د ناوې د کلي لومړني ښوونځي کې شامل کړ. (د انیس ورځپاڼه ئې د غزني په مقر کې وایي، خو ناوه یوه ولسوالي سوې او د ناوې کلی د ناوي په ولسوالۍ کې یادېږي.) په ۱۹۳۲ز یا ۱۳۱۱ل کال کې تره کي کندهار ته د کار موندلو په لټه راغی او د یوهٔ پښتانهٔ سوداګر په کمپنۍ کې ئې کار وموند. نوموړې کمپنۍ، تره کي په بمبئي کې خپل استازي دفتر ته، د کاتب په توګه ولېږهٔ. په بمبئي کې د شپې ښوونځي کې شامل سو او تر لسم ټولګي پورې ئې زده کړې بشپړې کړې.

ویل کېږي چې په همدغهٔ وخت کې ئې له خان عبدالغفار خان [1] سره ولیدل؛ دا هماغه غفار خان دئ چې د پښتونستان د خپلواکۍ یو مبارز سو. تره کي په ۱۹۳۷ز/ ۱۳۱۶ل کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو او سیاسي افکارو ئې پرمختګ کړی وو. عبدالمجید زابلي چې په خپله د تره کي له قبیله څخه وو نور محمد له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د خپل خاص اداري سکرتر/منشي په توګه مقرر کړ. نور محمد تره کي وروسته د مطبوعاتو او اطلاعاتو په ریاست کې په راډیو کابل او د باختر په خبري آژانس کې کار وکړ. تره کی د خپلو سیاسي فعالیتونو په کړس کې بدخشان ته د ټیټې رتبې کارته تبدیل سو. د محمد هاشم له استعفی په وروسته دوران کې خلکو ته مدني آزادۍ ورکړل سوې، تره کی هم له یوهٔ سیاسي بهیر سره یو ځای سو. ددې غورځنګ (ویښ ځلمیانو) غړو د لومړي ځل لپاره یو بل په کندهار کې ولیدل او بیا په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل په لویدیځ کې په چهاردهي کې د تره کي په کرایي کور کې له یو بل سره ولیدل. [2] دغهٔ غورځنګ ځانته یو شمېر پښتانهٔ روڼ اندي او د کوچنۍ بورژوا کسان راوکاږل. دغهٔ غورځنګ په ۱۹۵۱ز کال کې د «انګار» په نوم خپل اوونیز نشراتي ارګان خپور کړ چې د ـکور، کالي، تعلیم او مساوات. او د افغان ټولنې د ریفورم یا سمون او بیا جوړونې شعارونه ئې راپورته کړل. تره کي هم په همدې ارګان کې یو شمېر مقالات ولیکل. دا کار ددې لامل سول چې دا ارګان د ۱۹۵۱ز کال په ۱۶ نېټې تعلیق سي. [3]

---

1 -Jäkel suggests obliquely that Taraki may have been inspired by this "admirer of Lenin" and founder of the *"Khuda-i-Khidmatgaran"* or "Red Shirts."

2 - According to Jäkel, in late 1946 or early 1947.

3 - According to Jäkel, Angar's report of April 16, 1951, on the suppression of the Kabul University Student Union, and the demand for its restoration, led to the suspension of the paper.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ۱۹۴۸ او ۱۹۵۳ز کلونو تر منځ تره کي د ليکوال او سياسي فعال په نوم شهرت وموند. په واشنګتن ډي. سي. کې د افغان سفارت د مطبوعاتي اتشي په توګه مقرر سو. په ۱۹۵۳ز کال کي کله چې محمد داؤود د افغانستان صدراعظم سو، تره کي نوی رژيم محکوم کړ او په واشنګتن کي له شپږ مياشتيني تصدئ وروسته د امريکا له متحده اياﻻتو څخه بېرته راستون سو. د ۱۹۵۳ او ۱۹۶۳ز کلونو تر منځ تره کي د «نور دار الترجمه» ئـې پرانيستله چې د امريکا د سفارت په ګډون ئـې د بېلا بېلو افغان او باندنيو سازمانونو لپاره د ژباړې کارونه پر مخ بيول. په عين وخت کي ئـې خپلو سياسي فعاليتونو ته دوام ورکړ او يو شمېر آثار ئـې چاپ کړل چې انقلابي بڼه ئـې درلودله. د ۱۹۶۵ز کال د جنورئ د مياشتي په لومړۍ نېټي تره کي د کابل په شيرشاه ميني کې خپل کور ته ۳۰ تنه ځوانان راوغوښتل چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د بنسټ اېښودلو لپاره غونډه وکړي. تره کي د اجرائيه کميټي د غړي او د ګوند د عمومي منشي په توګه وټاکل سو. په ۱۹۶۵ز کال کې تره کي د ولسي جرګې لپاره ځان د ناوې له ولسوالۍ څخه کانديد کړ خو بريالی نـهٔ سو. د ۱۹۶۶ز کال د اپريل په مياشت کې ګوند د «خلق» په نوم يوه اونيزه چاپ کړه؛ ددې اونيزې ناشر تره کي او محمد حسن بارق شفيعي «چې وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزير سو» د اونيزې سرمحرر وو. دا ورځپاڼه له شپږمې ګڼې وروسته تعليق سوه.

په ۱۹۶۷ز کال کې ګوند د نور محمد تره کي تر مشرئ لاندې د «خلق» او د ببرک کارمل تر مشرئ لاندې د «پرچم» په دوه فرکسيونونو وويشل سو. پرچميانو په ۱۹۷۳ز کال کي د محمد داؤود له کودتا وروسته، له محمد داؤود سره همکارئ وکړه حال دا چې خلقيانو ځانونه ګوښه ونيول او هڅه ئـې وکړه چې خپلې موخې «د علمي سوسياليزم پر بنسټ د ټولنې جوړو» ته د رسېدلو لپاره په وسله وال ځواک کي نفوذ کولو ته دوام ورکړ. حفيظ الله امين ته، چې وروسته د صدر اعظم مرستيال او د باندنيو چارو وزير سو، دنده ورکړل سوه چې د وسله والو ځواکونو په منځ کې کار وکړي. په ډېر لنډ وخت کي د وسله وال ځواک يو شمېر افسران «چې اکثريت ئـې قبيلوي پښتانـهٔ ول» د خلقيانو دغې موخې ځانته راوکاږل. د ۱۹۷۷ز کال د جولای په مياشت کي د دواړو فرکسيونونو تر منځ وحدت له سره رامنځته سو او تره کی د عمومي منشي په توګه پاتي سو. وحدت بايد په دوه وو څانګو کې رامنځته سوی وای، په ملکي او په پوځي څانګو کې. په ملکي سکتور کي وحدت چې پرچميان په کې اکثريت ول بايد د بشپړ مساوات پر بنسټ رامنځته سوی وای؛ د وسله وال ځواک په سکتور کې چې خلقيان اکثريت ول، خلقيان په برﻻسي توګه په کنترول کې پاتي سول. په عين وخت کې د داؤود حکومت خپل ګوند جوړ کړ چې «حزبِ انقلاب ملي» نومېدهٔ او پرچميان ئـې د واکمنی له مقامونو څخه حذف کړل. کله چې د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتي په ۱۷ نېټي د خلق د ګوند يو غړی، مير اکبر خيبر، ووژل سو، د هغـهٔ د جنازې په مراسمو کې په زرهاوو خلک د اعتراض په ډول راټول سول او د نور محمد تره کي په ګډون د کيڼ ﻻس مشران ونيول سول. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتي په ۲۷ نېټي د وسله وال ځواک کودتا، د داؤود رژيم نسکور کړ. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتي په ۳۰ نېټي نور محمد تره کی د انقلابي شورى د رئيس او د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت د صدراعظم په توګه وټاکل سو. د ۱۹۷۸ز کال د ډسمبر په مياشت کي تره کي مسکو ته لاړ او له شوروي اتحاد سره ئـې د دوستئ تړون لاسليک کړ. تره کي په هاوانا کې د نابېيلو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې ګډون وکړ

جکل وايي چې د ۱۹۵۱ز کال د اپريل د مياشتي په ۱۶د کابل پوهنتون د محصلينو د اتحاديې د ځپلو د راپور او ددې اتحاديې د بېرته جوړولو د غوښتنې پر بنسټ ول چې نوموړی نشراتی ارګان تعليق سي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

او بیرته د مسکو له لارې کابل ته را روان وو چې په مسکو کې ئــې د رئیسه هیـئـت له صدر بریژنیف سره ولیدل. د ۱۹۷۹ز کال د سپمتبر په ۱۶ نـېټې د تره کي د شخصیت پالنې/ کیش شخصیت پرستي پر دود باندې د پاى ټکى کښېښودل سو. او د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۹ نـېټې ووژل سو.

## فتح محـمـد ترین

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د پلان د وزارت مرستیال وزیر.

## محـمـد اسمٰـعیل طارق [4]

(په ګل آخوند زاده مشهور) د مولوي عبدالله زوى، په ۱۹۵۳ز کال کې د لغمان د الیشنګ په ترنګ کې زېږېدلى دئ. خصوصي زده کړې او د اسلام آباد په لومړني ښوونځي کې ئـې زده کړې کړې دي. د ابو حنیفه مدرسه ئـې لوستي او ورپسې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي کې شامل او په ۱۹۷۵ز کال کې ورڅخه فارغ سوى دئ. په ۱۹۷۵ز کال کې ئـې د شپږو میاشتو لپاره د ملکفیت دوره تـېره کړه. د عدلیې د وزارت کارمند. په ۱۹۷۸ز کال کې د فاریاب په بل چراغ کي قاضي. له اتو میاشتو کار وروسته پاکستان ته لاړ. ورپسې د لغمان ولایت د جمعیت اسلامي امیر سو. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## سید داؤود تړون

په ۱۹۴۲ز کال کې د ننګرهار ولایت د خوګیانیو د ولسوالی په حکیم آباد کې زېږېدلى دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې لومړني ښوونځي کې شامل سوى او په ۱۹۵۵ز کال کې ورڅخه فارغ سوى دئ. ورپسې د اتو کالو لپاره حربي ښوونځي ته تللى دى. په ۱۹۶۲ز کال کې ئـې خپلې زده کړې د لیاقت د مډال په اخیستلو بشپړې کړلې او شوروي اتحاد ته واستول سو چې په ۱۹۶۸ز کال کې ئـې خپل د انجنیرۍ ډیپلوم ترلاسه کړ. سید داؤود د غوایي په کودتا کې بنسټیزه ونډه ولوبوله چې په ۱۹۸۰ز کال کې د پولیسو د مشرۍ دنده ورته ورکړل سوه. (په دغې نـېټې یعنې ۱۹۸۰ز کال کې لودویګ آدمک تـېر وتلى دى څکه تړون په ۱۹۷۹ز کال کې د فبرورۍ په ۱۴ نـېټې ووژل سو. – ژباړونکى). سید داؤود تړون په ۱۹۷۸ز کال کې د انقلابي شورى د دفتر یاور وګومارل سو. او پر دې سربېره نوموړى د هـېواد د دفاع د عالي شورى غړى هم وو. ویل کـېږي چې سید داؤود تړن د ۱۹۷۹ز کال کې د سپتمبر د میاشتې په ۱۴ نـېټې د تره کي او امین تر منځ د ډزو په تبادله کې ووژل سو. تړون دغه ارتقاء ګاني کړې دي : په ۱۹۶۸ز کال کې د خپلو زده کړو له بشپړولو وروسته لومړى بریدمن؛ په ۱۹۷۱ز کال کې تورن؛ په ۱۹۷۳ز کال کې جګتورن؛ په ۱۹۷۵ز کال کې جګړن؛ او په ۱۹۷۸ز کال کې ډګروال.

## عبدالعزیز طرزي

د محـمـود بیګ طرزي زوى. د حـبـیـبیې لیسې ته تللى دئ. لس کاله ئـې په فرانسې کې ژوند وکړ؛ درې کاله ئـې په ایتالیا کې ژوند وکړ؛ او ۲۳ کاله ئـې په تورکیې کې تـېر کړل. نوموړي په دغو هـېـوادونو کې د ژبو او تعلیمي سیستم په هکله تحصیلات او مطالعات وکړل. دى یو ډېـر مشهور افغان انځورګر وو. په تورکیې کې د خپلې استوګنې پر مهال

[4] - TARIQ, MOHAMMAD ISMAL : ددې نوم مخې ته ئـې په عربي الفباء محمد اسماعیل طریق لیکلي دي. زه ژباړونکى دغه طریق د طارق په توګه لولم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ئـې د دولت په ټولو هنري ننداړتونونو کې ګډون وکړ. نوموړي په کابل کې هم خپل آثار معمولاً ننداري ته وړاندې کول. د افغان توریزم یا د ګرځندوی د اداري کارمند. له یوې تورکۍ مېـرمنې سره ئـې وادۀ کړی او په تورکیه کې اوسېـږي.

## عبدالفتاح طرزي

د محمود طرزي زوی په ۱۹۰۸ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. زده کړې ئـې د حـبیـبیـې په ښوونځي کې کړې دي. په ۱۹۲۲ز کال کې له خپل پلار سره پاریس ته لاړ. په ۱۹۲۵ز کال کې انګلستان ته لاړ او په برمنګهم کې د پولیسو په انستیتیوت کې ئـې تحصیل وکړ. په ۱۹۲۸ز کال کې کابل ته راستون سو او د پولیسو د کالج مشر مقرر سو. په ۱۹۲۹ز کال کې کله چې امیر امان الله خان له هېـواده دباندې مخ په تبعید روان وو، دی ئـې د لارې ملګری وو او تر ۱۹۳۴ز کال پورې د امان الله خان د سکرتر په توګه پاتې سو. له هغـۀ وروسته په استانبول کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای سو. د «ډاکټر پاکیزې سالتک»[5] په نوم له یوې تورکۍ مېـرمنې سره ئـې وادۀ وکړ او دوه لوڼې لري: فاطمه او زینب او یو زوی د محمود په نوم لري. مېـرمن ئـې د استانبول د مېـرمنو په روغتون کې یوه ډېـره بریالۍ ښځه وه او عبدالفتاح ددې روغتون اداري مسؤول وو او تر ۱۹۷۹ز کال پورې په همدې دندې پاتې او په ۱۹۷۹ز کال کې وفات سو، او زوی ئـې محمود د دۀ ځای ونیوۀ؛ «محمود وادۀ کړی دئ او درې زامن لري.»

## نور بیا

## عبدالقادر طرزي

د محمود طرزي زوی په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. لومړنۍ زده کړې ئـې د ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[5] -Dr. Pakize Salket


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ